سردار محمد همدرد ۲۰۱۶/۰۱/۲۱

# د عدم تشدد پر مرکز د تشدد ډک برید

د لوی افغانستان د جوړېدو او د پښتنو د یووالي ارمانجن ستر مبارز پاچا خان پر پوهنتون برید چې له امله یې ۲۰ بې ګناه کسان چې ډېری یې محصلین وو ووژل سول او ګڼ شمېر نور ټپي ژوبل سول.
د عدم تشدد د دې سرلاري ستر مبارز مبارزه هم د تشدد په وړاندې وه، هغه د خپل ټول ژوند په مبارزه کې د ټولنیز عدالت، انصاف او برابری لپاره هم ژمن و او هم یې په دې برخه کې نه ستړي کېدونکي هلې ځلې وکړې، د لوی افغانستان هرې سیمې ته یې سفرونه وکړل، له خلکو سره یې ولیدل، جرګې یې جوړې کړې او د پښتنو د پوهولو هڅې یې وکړې.
په دې وروستیو کې دې ته ورته ډېرې پېښې رامنځته سوې دي او دا پېښې د ډیورنډ له پولې اغاړې او دې غاړه په پرلپسې ډول ترسره سوي دي.
اوس ستونزمنه خبره دا ده چې، د دې قربانیو قربانیان یا پښتانه دي او یا هم نور افغانان، خو حکومتونه د خپلو ناوړه موخو لپاره داسې یوه لوبه کوي چې د خپلو ناروا ګټو لپاره پر دې خاوره باندې همدغه حالات روان وساتي.
نن چې د عدم تشدد د مبارزې پر سرلاري اراوښاد پاچا خان بابا پر پوهنتون دا برید ترسره کیږي نو دا دا مانا لري چې د عدم تشدد فکر د له منځه وړلو لپاره هڅې کیږي.
اوس چې په دې سیمه کې کوم اور بل دی دا هغه وخت مړ کېدای سي چې د عدم تشدد فکر په ټولنه کې خپور سي او انساني حقوق اجتماعي عدالت د اسلام د مبین دین په رڼا کې خلک ترې برخمن سي.
د دا ډول پېښو مخنیوی په دې توګه نه سي کېدلی چې د وخت حکومتونه یو پر بل تورونه ولګوي، بلکې دا د ټولې سیمې دولتونو لپاره له اخلاصه ډکه اراده پکار ده.
دا یو څرګند سیاست ته اړتیا لري، یو د بل د کور په ورانولو هیڅکله په دې سیمه کې امن نه سي راتلی او دا هم باید ټول ومنو څوک چې د بل کور خرابوي هغه به هیڅکله په خپل کور کې د امن خاوند نه سي.
اوس خبره دا ده دا قرباني ګانی خو په دې سیمه کې رواني دي، اوس چې ارزښتونه زیانمن کیږي دا ډېره خطرناکه خبره ده.
پاچا خان بابا چې د ټول انسانیت د پوهولو او د دوی لپاره د پوهې پر ګانه سنبالېدل یې ارمان وو، نن سره له دې چې پښتانه څوک د هغه ارمانونو پوره کېدو ته نه پرېږدي، بلکې د هغه پر نوم پوهنتون باندې بریدونه هم دا په ډاګه کوي چې زموږ دښمن یو دی او د پښتون وژني او افغان وژني لپاره دلته لویه لوبه روانه ده، داسې لوبه چې د پولې دواړه غاړو ته پوهنیز مرکزونه هم خوندي نه دي او بریدونه پرې کیږي.
په ټوله کې بیا خبره پښتنو ته راځي او ګوته دوی ته نیول کیږي، ځکه اور د پښتون پر کور بل دی، هغه د یو شاعر خبره دلته ښه صدق کوي چې وایي: «هلته هم زه مرم، دلته هم زه مرم»
ترڅو چې پښتانه یو نه سي، تر څو چې دوی د پاچا خان ارمانونه پوره نه کړي، ترڅو چې دوی زده کړې ونه کړي او خپل دښمن ته یو نه سي، ترڅو چې د نورو لاسوهنه په دې هېواد کې بنده نه کړي نو تل به د دغه ډول بریدونو ښکار یو، عام خلک به مو په وینو کې لړلي وي، ښوونځي، پوهنتونونه، روغتونونه، بازارونه او مسجدونه به پر ویر ځایونو بدل وي او حتی د لمونځ کولو لپاره به له ویرې مسجد ته نه سو تلی، ښوونځي او پوهنتون ته به د دښمن برید له ویرې د زده کړو لپاره نه سو تلی او تر دې پورې چې خپله کوټه او میلمستون کې به له میلمه سره هم په ډېره ویره او اندېښنه ناست یو، ځکه داسې ځای پاتې نه سو چې دښمن برید پرې ونه کړ او روغ پاتې سو، له مذهبه تر کلتوره او له ښاره تر کلیو او کورونو هر څه نا امنه سول.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ